# روژه

روژه په لغت کي مطلق بندوالي ته وايې ، د هر شي څخه چي وي اوهر وخت چي وي . په قرآن کريم کي د بي بي مريمي د خبرو نه کولو تعبير هم په صوم سره سوي دي .

فَقُولِىٓ إِنِّى نَذَرْتُ لِلرَّحْمَـٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾

( سورة مريم آيت ۲۶ )

ترجمه : ( نو ووايه په تحقيق سره ما نذر کړی دي درحمن ( الله □ ) له پاره روژه ( خبري نه کول ) وروسته له دي به خبري ونکړم زه نن ورځ له هيڅ يو انسان سره ).

او شريعت کي دنيت پر بنا د ټاکل سويو شيانو څخه په ټاکلي وخت کي د يو مکلف شخص له خوا په خپل نفس باندي بنديز لګول دي .

مکلف شخص عبارت دي له عاقل او بالغ مسلمان څخه ، او که ښځه وي د حيض او نفاس څخه بايد پاکه وي .

ټاکل سوي شيان عبارت دي له خوراك . څښاك او جماع ( يوځايوالي ) څخه .

ټاکل سوي وخت عبارت د ی ، له صبح صادق څخه تر لمر لويدو پوري ( دشپي تر راختلو پوري ) .

څرنګه چي روژه بيله نيته څخه نه صحيح کيږي نو د رمضان د مياشيتي د روژي او ټاکل سوي نذري او نفلي روژي نيت له شپي څخه تر زواله پوري صحت لري ، که په مطلق نيت سره وي او که په نفلي نيت .

او دنورو نيت لکه : قضايې ،نذر مطلق ،دکفاري روژه دشپي له نيت څخه پرته نه صحيح کيږي ، همدارنګه د نيت تعين هم ضروري دي لکه قضايې ،نفلي او کفاري روژي نيت .

که خوراك او څښاك په داسي حال کي وسي چي روژه يې هيره وي يا محتلم او شيطان يې وغولوي يا ځان غوړ کړي ( دزخم غوړول ) يا رانجه وکړي يا مچه واخلي يا څه ګرد او غبار او يايې مچ تير سي يا په ليدو او فکر کولو کي انزال سي روژه يې نه ماتيږي .

## دروژي فرضيت :

د رمضان په مياشت روژه فرض ده او دفرضيت دليل يې دا آية کريمه دي .

فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ

( سورة البقره آية : ۱۸۵ )

ترجمه : ( څوك چي حاضر سو له تاسي څخه مياشت دروژي ته ، نو روژه دي ونيسي ).

او دا آية مبارك هم د روژي په فرضيت باندي دي دلالت کوي :

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾

٥

( سورة البقره آية : ۱۸۳ )

ترجمه : ( فرض کړل سوي ده په تاسو روژه لکه فرض کړل سوي چي وه په هغو کسانو چي ستاسوترمخه وه ) ( لکه پخواني امتونه او پيغمبران تر آدم □ پوري ) .

## دروژي فضيلتونه :

° : روژه ډیر فضیلتونه لري چي په کتاب الله او نبوي احادیثو سره ثابت سوي دي لکه په دی آیة کریمه کي

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ

( سورة البقره آیة : ۱۸۵ )

ترجمه : ( د روژي میاشت هغه میاشت ده چي قرآن کریم پکښي نازل سوي دي ( یعني له لوح محفوظ څخه د دنیا اسمان ته )

او همدا رنګه د احدیث شریف :

عن ابي هريره ( رض ) عن النبي  قال : من صام رمضان ايمانا واحتسابا غفرله ما تقدم من ذنبه . ( متفق عليه _ رياض انصالحين ۲۶۱

ترجمه : ( د حضرت ابی هریره ( رض ) څخه روایت دي چي رسول  فرمایلي دي :

( چاچي د روژي په میاشت کي روژه ونیوله په کامله توګه او دثواب په نیت ، و به بخښل شي دده ټول مخکني ګناهونه ) . په بل حدیت شریف کي ذکر سوي دي : د هر نیك عمل اجر یو په لس او تر اوه سوه پوري ورکول کیږي لا تر دي هم زیات .

د روژي د اجر ا وثواب په باره کي الله  فرمایلي دي :

( چي روژه زما له پاره ده اجر او ثواب یي زه ورکوم )

د ا چي خداي  یي د ثواب ورکولو نسبت خانته کوي معلومه ده چي ادا ډیر لوي اجر دي .

یو بل حدیث مبارك په د ي دلالت کوي چي خداي  فرمایي : ( د روژه دار د خولي بوي ماته له مشکو بهتر دي ) .

په بل حدیث شریف کي ذکر سوي دي چي ( په جنت کي یوه دروازه دریان په نامه ده غیر له روژه نیونکي څخه بل څوك دي دروازي ته نه سي داخلیداي ) :

خداي  زموږ روژي ته کوم احتیاج نه لري ، د روژي فضیلت ا و بهتري یوازي په لوږه او تنده کښي نه ده بلکي بهتر ي او فضیلت یي په تامه ( مکمله ) روژه کښي دي . او تامه روژه هغه روژه ده چي روژه لرونکي له خوراك ، څښاك او جماع څخه ځان وساتي . له دروغو ، فحشاء ، دحرامو دلیدلو او اوریدلو ، غیبت کولو او نورو نواهیو څخه هم د خداي  د رضار له پاره ځان وساتي او هغه څه چي د خداي  رضا پر ي حاصلیږي په ډیر اخلاص سره هغه وکړي او دخداي  رضا حاصله کړي ، د جنګ او جدل څخه ځان وساتي او که څوك یي شخړي ته مجبور هم کړي باید شخړه ونه کړي .

که دروژي په مبارکه میاشت کي چاته شرعی عذر پیښ شي چي د روژي له نیولو سره هغه منافات او مشکلات ولري نو په هغه صورت کي به روژه لرونکي روژه خوري خوبیا به یي قضایي راوړي .

## د روژی د خوړلو له پاره شرعی عذرونه :

۱ سفر : که چا د سفر په وخت کښي روژه وخوړله روا ده مګر نیول یي فضیلت لري . خو شرط دادي که دسفر مسافه تر ۷۷و کیلو متره او ۲۳۸ متره کمه وه دسفر کوونکي مسافر نه شمیرل کیږي هغه سفر کوونکي ته مسافر ویلاي شو چي د سفر مسافه یي تر ۷۷ کیلو متره او ۲۳۷ متره تر هغه ډیره سي په بعضي ځایو کښي د ا مسافه ۸۷ کیلومتره بنوول شوی ده .

۲ مرض : که چیري څوك مریض شي او د روژی په نیولو سره یي د مرګ ویره او یا د مرض د زیاتوالي متصور شي او همدارنګه هغه چاته روژه خوړل روا دي چي په روژه نیول سره یي د ځان او یا اولاد د مرګ ویره وي لکه : تنده ، لوږه ، حمل او نور

۳ حیض اونفاس : د حیض او نفاس په دوران کي روژه نیول قطعاً روا نه ده .

۴ زوروالي : هغه چاته خوړل رواده چي د ډیر زوړ والي په سبب د روژې نیولو قدرت ونه لري که د فدیي قدرت یې وي هغه به فدیه ورکوي .

## روژه ماتوونکي شیان :

هغه شیان چي روژه ماتوي دوه ډوله دي :

۱ هغه شیان چي روژه ماتوي او هم کفاره لازموي هغه عبارت له خوراك ، څښاك ( غذا وي او که دوا ) او جماع په محل مشتهي کښي .

۲ هغه چي کفاره نه لازموي روژه ماتوي او قضاء هم لازموي .
لکه په شرعی عذر چي روژه وخوري او یا یې په خطا سره وخوري او یا یو داسي شي و خوري چي نه غذا وي او نه دوا لکه خاوره ، تیږه او امثال یې او یا په جبر سره په چا باندي خوراك ، څښاك او جماع وسي .
جماع په محل غیري مشتهي کښي روژه ماتوي او کفاره نه لازموي .
سګریټ ،چلم، نصوار ،شراب ، هیروین او دې ته ورته عملونه په روژه کښي منع او روژه پري ماتیږي .
په دې سبب چي روژه یو داسي عبادت دي چي د روژه لرونکي د خولي بوي د خداي  په نزد له مشکو هم بهتر دي نو غوره داده چي دا بوي په پلیت او چټل بوي باندي بدل نسي .

## کفاره :

که څوك د روژی په میاشت کي بیله کومه عذره په قصد سره روژه وخوري کفاره پر لازمه ده او که دغه مریض په دغه ورځ د اسي مریض شي چي د روژې خوړك ورته روا کیږي او که ښځه د روژی په میاشت کي روژه وخوري او کفاره پر لازمه شي او بیا په همدغه ورځ حائضه او یانفاسه شي کفاره ورځيني ساقیطیږي .

## د روژ ي خوړلو له امله کفاره :

۱ غلام آزادول ( که څه هم اوس غلامان نسته )

۲ دوه میاشتي پرله پسي روژه نیول په دې شرط چي د روژې میاشت او هغه ورځي پکښي رانشي چي روژه نیول په کښي حرام دي ، چي هغه ورځي عبارت دي دکوچني اختر لومړی ورځ ، د لوي اختر لومړي ورځ او د تشریق دري ورځي چي تولنه پنځه ورځي کیږي که پر چا باندي دروژی کفاره لازمه شي تر څو پوري چي یی هغه کفاره نه وي راګرځولی بله کفاره نه پرلازمیږي .

۳ شپیتو مسلمانانو ته یو وخت متوسطه ډوډی ورکول او یا شپیته فدیي ورکول یوه فدیه : غنم نیمه صاع ( نیمه صاع اوس د دووکیلو ګرامو سره مساوي ده ) ، وربشي او خرما یوه صاع کیږي او یا یي باید معادل قیمت ورکول سي .